


# د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام (AWDP)

د ۱۳۹۱ کال د حمل  څخه د ۱۳۹۷ کال تر سرطان پورې

۵۰  میلیون ډالره

## لنډه کتنه

د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام چې د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې تر پوښښ لاندې فعالیت کوي، په پام کې لري چې په ساختماني سکټور، معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ، عامه – خصوصي همکارۍ او تجارتي مدیریت برخو کې د ودې فرصتونو چمتو کولو ترڅنګ، د افغان دولت او امریکا متحده ایالاتو د پرمختیایي اهدافو له بشپړولو سره هم مرسته وکړي. دغه پروګرام هڅه کوي چې د ۲۵،۰۰۰ تنو افغان وګړو د کارګمارنې او معاشونو کچه لوړه کړي چې لړترلږه ۲۵ سلنه به یې ښځې وي. د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام په سترو اقتصادي برخو کې د کاري ځواک روزنې، د بېکارۍ د لوړې کچې، افغان ماهرو تخنیکي کارګرو کمښت او روزل شویو مدیرانو د نه شتون په څېر ستونزو هوارولو له لارې، دغه هدف ته د رسېدو هڅې کوي. په دې لاره کې به دغه پروګرام باکیفیته او تقاضا محوره تخنیکي او تجاري تعلیمات د کارګمارنې او شغلي ملاتړ خدمات وړاندې کړي.

دغه پروګرام به د USAID تر مستقیم نظر لاندې د نوښتګرو همکارانو د نړیوالې مؤسسې له لوري پلی شي. د دې پروګرام لا پراخه موخه په مهمو اقتصادي برخو کې د کاري بازار د اړتیا وړ او غوره وړتیاوو لرونکې کاري ځواک ډېرونه ده چې د کیفیت لوړونې او د کاري بازار د اړتیا وړ مهارتونو ور زده کولو له لارې به چمتو شي.

د Creative/AWDP اداري ژمنه کړې چې د تمدید شوې دورې په اوږدو کې به (له لګښتونو سره مل چې د ۱۳۹۵ کال د سرطان له ۱۱ نېټې به د ۱۳۹۷ کال د سرطان تر ۹ وخت ونیسي، لاندې ټکي عملي کړي:

- د ۸،۰۰۰ نیمه مسلکي کارلټوونکو، خصوصي او نیمه خصوصي شرکتونو کارکوونکو ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو او تجارتي مهارتونو  د پروژې اعطا؛
- د شغلي سلامشورې(C3) مرکزونو جوړولو لپاره د لوړو زده کړو د خصوصي مؤسسو ظرفیت لوړول او له پوهنتونونو څخه د ۱،۵۰۰ تنو فارغانو روزنه چې ۷۵۰ تنه یې باید په دندو وګمارل شي؛
- ډېر ترلاسه کول چې د ټولو روزل شویو او په کار ګمارل شویو کسانو ۲۵ سلنه  ښځې دي؛ او

- د لوړو زده کړو مؤسسو او کار لټوونکو ۵۰۰ تنو ماسټر ټرېنرانو لپاره د ماسټر ټرېننګ زده کړو پروګرام ډیزاینول او وړاندې کول. د روزل شویو کسانو له ډلې باید ۲۵۰ تنه په دندو وګمارل شي یا هم په خپلو اوسنیو دندو/پوستونو کې ترفیع وکړي.

## روان فعالیتونه

د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام د یوې خلور پړاویزې پروسې له لارې په ګوته کوي چې په کومو برخو کې ماهر کاري ځواک ته اړتیا ده او څنګه کېدای شي دغه اړتیا پوره کړو:

- **د کاري بازار د اړتیاوو ارزونه:** د اقتصادي سکټورونو ارزونه په ګوته کوي چې خصوصي سکټور کومو مهارتونو ته اړتیا لري. دغه ارزونې د خصوصي سکټور شرکتونو پر نیمه مسلکي یا منځنۍ شغلی سطحې د تمرکز له لارې ترسره کیږي.
- **د ښوونیز نصاب چمتو کول یا تعدیلول:** ښوونیز نصاب به د افغان روزونکو په همکارۍ د خصوصي سکټور کارګمارونکو له غوښتنې او اړتیاوو سره سم ډیزاین شي.
- **د وړتیاوو پر بنسټ روزنه:** د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام بلاعوضه مرستو پروژې له سیمه ایزو ادارو سره مرسته کوي چې د تجارتي شرکتونو د اړتیا وړ برخو کې د زده کړو پروګرامونه چمتو کړي.
- **د کارګمارنې خدمتونه:** د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام له ګمارنې وړاندې زده کړو، کارګمارنې خدمتونو او تکمیلي خدمتونو د چمتو کولو ترځنګ، د کار موندنې په برخه کې هم د خپلو روزنیزو پروګرامونو له ګډونوالو سره مرسته کوي.
- **د AWDP د څلور رکنې نمونې دوام او د ماسټر ټرېنرانو روزنه:** د لوړو زده کړو د هغه شمېر خصوصي مؤسسو د استادانو لپاره د «لویانو د زده کړې مېتود» او «د تدریسي پلان جوړونې» په برخو کې روزنې چې د مهارتونو وړ زده کولو پروګرامونو په تجارتي کولو او د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام د کارګمارنې یا شغلي ترفیع نمونې د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره ټاکل کیږي. هغه ښوونکي چې د روزنې دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوي، د معاش لوړېدو له امتیاز څخه برخمنیږي او د پروګرام د موخو ترلاسه کولو سره مرسته کوي.
- **د شغلي سلا مشورې مرکز(C3):** کاري یا شغلي سلامشوره د افغان ځوانانو یوه له مهمو اړتیاوو څخه ده چې د کار لټه کوي یا د ځان لپاره د کار مناسب مسیر ټاکي. په داسې حال کې چې د لوړو زده کړو ځینې خصوصي موسسې په دې وروستیو کې دا ډول مرکزونه جوړ کړي، د دغو موسسو مسولینو ویلي چې د کاري بازار او فارغانو د اړتیاوو پوره کولو لپاره شغلي خدمتونو، سرچینو او تخنیکي ملاتړ ته جدي اړتیا لري.

## لاسته راوړنې

- د روزنیزو پروګرامونو له ۲۱،۰۰۰ تنو ډېرو ګډون کوونکو لپاره کارموندنه یا د معاش له لوړېدو سره مل شغلي ترفیع چې ۳۶ سلنه یې ښځې جوړوي.
- د ۸۴ لنډ مهاله او د کاري بازار له اړتیاوو سره سمو روزنیزو پروژو بشپړول. اوسمهال ۲۱ پروژې د ثابتو قراردادونو مکانیزم په وسیله پلې کیږي او ۱۰ نور قراردادونه د ارزونې له پړاو تر تېرېدو وروسته اعطا کیږي.
- کابو ۳۲،۰۰۰ نیمه مسلکي کارلټوونکي او کارکوونکي – چې ۳۶ سلنه یې ښځې جوړوي – له تخنیکي مهارتونو او تجارتي مدیریت څخه برخمن شوي دي. د مالي مدیریت او Primavera سافټ وېر کارولو، وېب ډیزاین او برېښنا غځونې مهارتونه، د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام له روزنیزو او تعلیمي برخو څخه دي.

نېټه: د ۱۳۹۶ کال ثور میاشت
د اړیکو شمېره: ۴۰۱۵ ۱۱ ۷۰۰ (۰) ۰۰۹۳
برېښنالیک: kblaiddocinformation@usaid.gov
وېب سایټ: http://www.usaid.gov/afghanistan